لیکوالان: لیون پولادا او لیلا پولادا Leon B. Poullada & Leila D.J Poullada ۲۰۲۰/۰۹/۱۹
مترجم: عبدالباري جهاني

# د افغانستان شاهي دولت او متحده ایالات

## The Kingdom of Afghanistan and the United States: 1828-1973

لمړی برخه

دا کتاب د متحده ایالاتو مورخ او ډیپلوماټ لیون پولادا او د هغه میرمني لیلا پولادا لیکلی دی. که څه هم چي ټول کتاب د افغانستان او امریکاد اړیکو په اړه دی خو ځیني فصلونه یې د افغانستان له اوسنیو حالاتو سره مستقیم تړاو لري ما یې هغه د ترجمي لپاره انتخاب کړي دي. زه یقین لرم چي دا فصلونه به د افغانستان د تاریخ د علاقه مندانو او تاریخ د شاګردانو لپاره په زړه پوري وي.

### پنځم فصل

د جنګ د وختونو اړیکي: د دوستی سرچینه.

د افغانستان او متحده ایالاتو دوستانه اړیکي د ۱۹۴۲ کال څخه د جنګ تر پایه پوري په کلونو کي تاسیس سول. په دغه کلونو کي دوستانه اړیکي وار په وار زیات سول او د جنګ څخه، سمدستي، وروسته کلونو ته وغځېدل. د دي دوستانه اړیکو د ټینګېدلو زیاتره کار هغو لومړنیو امریکایانو پیل کړ چي افغانستان ته د استازو په توګه استول سوي وه. دا کسان: کورنیلیوس وان ایچ اینګرټ، ایلي اي پالمر او لوییس جي ډریفوس وه.
Cornelious Van H. Engert, Ely E. Palmer, Louis G. Dreyfus
دا دري واړه کسان تجربه کار ډیپلوماټان ول او د منځني ختیځ تجربې یې لرلي او دوو خو یې لا مخکي، تر هغه چي افغانستان ته د هیات د رئیسانو په حیث واستول سي، له هغه هیواد سره تماسونه درلودل.
کله چي اینګرټ د جولای په میاشت کي، ظاهرشاه ته خپله اعتماد نامه وراندي کړه هغه په دې نه وو خبر چي څونه لوی مسوولیتونه یې وسپارل سوي دي. دا وخت دري مهمي مسلي وي چي ده باید توجه ورته کړې وای. لومړی خو په یوه نوي هیواد کي د ډیپلوماټیکو اړیکو د قایمولو په مخ کي فیزیکي او کلتوري ستونزي وې چي ده باید توجه ورته کړې وای. دوهمه خبره د افغانستان په خارجي پالیسي کي د محور د هیوادونو نفوذ وو او دریم د جنګ په وخت کي د افغانستان د اقتصاد ویجاړېدونکی حالت وو.
لومړی ستونزه خو عادي وه او په لیري پرتو او وروسته پاته هیوادونو کي د ډیپلوماټیکو اړیکو د پیل کولو سره ملګري وي او له هر ډیپلوماټ څخه ډېر کار غواړي. د ده ډېر وخت د سامانونو په ترلاسه کولو، ټراسپورټېشن، د سون موادو په برابرولو، د کور په اخیستلو او سمولو، ارتباطاتو په قایمولو، د ټلګرافي پیغامونو د لېږلو لپاره د اجازې په ترلاسه کولو اودغه راز کارونو ولګېدی. په افغانستان د ده د کار په مخ کي کلتوري خنډونه او موانع موجود وه او ده باید حل کړي او لیري کړي وای. په دغه لاره کي یې ډېري ستړتیاوي وګاللې. پر دې ټولو شیانو برسېره، د اینګرټ فرنیچر او شخصي سامانونه په هغه کښتۍ کي له منځه ولاړل چي د جرمني اوبتل وویشتله او ډوبه یې کړه. د متحده ایالاتو حکومت، د خپل معمول سخاوت سره سم، د دغو ټولو شیانو پیسې تادیه کړې.
دوهمه ستونزه چي اینګرټ ورسره مخامخ وو هغه په افغانستان کي د محور د هیوادونو نفوذ وو. که څه هم چي بریتانیې خو په افغانستان حالات تعقیبول خو متحده ایالاتو ته خپلو هغو ډیپلوماټانو چي د افغانستان په ګاونډ کي اوسېدل د محور د هیوادونو د زیات نفوذ درلودلو په باره کي رپوټونه ورکول او متحده ایالاتو پر دې رپوټونو باندي سترګي نه سویا پټولای. د افغانستان په حکومت کي د محور د هیوادونو یوه قوي طرفداره ډله موجوده وه او په افغانستان کي د جرمنیانو شمېر تر ټولو نورو خارجیانو زیات وو. بریتانیه او شوروي اتحاد دواړه په دې عقیده وه چي جرمنیان افغانستان ته د ورانکارۍ لپاره راغلي دي او غواړي له افغانستان څخه د هند او روسیې د بې ثباته کولو لپاره، د یوه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

مرکز په توګه، کار واخلي. دې خبرې هغه مشهوره مقوله تاییدوله چې که څوک په یوه هیواد کې د هرې ورځې جریانات څارې نو باید چې هلته ډیپلوماټان ولري.
د محور هیوادونو له ډېره وخته افغانستان، په مرکزي اسیا کې د یوه مرکز او داسې سیمې په حیث انتخاب کړی وو چې له هغه ځایه به په هند کې د برتانیې قدرت تهدیدوي. د جرمني اصلي ستراتیژي دا وه چې په دې سیمه کې به د داسې امبور کار کوي چې په پورته خوا به روسیه او په کښته خوا به افریقا او منځنی ختیځ رانیسي او پر هند باندې به د افغانستان له لورې ورځې اوجاپان له ختیځ څخه د برما له لورې پر هند باندې راځي.
په لومړۍ نړۍ وال جنګ کې، جرمني افغانستان ته د Oscar von Niedermeyer and Werner Otto von Hentig د اوسکار نیدارمایر او ورنر هینتیګ په مشرۍ یو هیات واستاوه او هغوی ته یې وظیفه ورکړه چې د افغانستان پاچا امیرحبیب الله د قبایلو په پارولو کې همکاری ته را وبولي او په هند کې ښورښونه ولمسوي. په دې توګه د برتانیې قوت له اروپا څخه بلې خواته متوجه کړي او د برتانیې او هند پوځونه په هغه هیواد کې مصروف وساتي. د هوښیار ځیرک امیر د جرمني هیات په دې او هغه پلمه وځنداوه تر څو چې د محور هیوادونو ماته وخوړه. دغه هیات هیڅ نتیجه ترلاسه نه کړه مګر خاطره یې ژوندۍ پاته سوه او همدغه مفکوره له همدغو پرنسیپونو سره په دوهم جنګ کې بیرته را ژوندۍ سوه او هینتیګ او نیدرمایر د پردې تر شا فعالیت کاوه.
د دوو جنګونو ترمنځ کلونو کې، جرمني کوښښ وکړ چې په افغانستان کې یو څه نفوذ پیدا کړي. د امان الله خان په پاچهۍ کې ۱۹۱۹-۱۹۲۹ یو څو تنو جرمنیانو په کابل کې ژوند کاوه او یو شمېر افغانان د زده کړو لپاره جرمني ته لېږل سوي وه. د نجات په لیسه کې، چې په ۱۹۲۴ کال کې جوړه سوې وه، جرمني ښوونکو د افغان مامورینو یوه ډله جوړه کړې وه چې له جرمني سره یې خواخوږي درلوده. سره له هغه هم قدرت ته د هیټلر تر رسېدلو پورې، د جرمني نفوذ نه ښکارېدی. قدرت ته د نازیانو له رسېدلو سره، جرمني یو ځل بیا د افغانستان ستراتیژیک موقعیت ته توجه واړوله. هینتیګ او نیدرمایر، چې دا وخت یې د هیټلر په حکومت کې لویې چوکۍ په لاس کې وې، دې حقیقت ته متوجه وه چې په افغانستان کې د دوی د مخکني هیات د ناکامی علت دا وو چې جرمني په افغانستان کې ډیپلوماټیک دفتر نه درلود او د جرمني طرفدار مقامات موجود نه وه. جرمني په ۱۹۳۰ کلونو کې په افغانستان کې فعالیت ته زور ورکړ او د افغانستان مقاماتو ته یې د زیاتو اقتصادي مرستو وعدې ورکړې او یو زیات شمېر تخنیکران او سوداګران یې، په کابل کې د کارکولو لپاره، ولېږل. د افغانستان مشرانو د جرمني د اقتصادي مرستو ډېر تود هرکلی وکړ ځکه دوی غوښتل چې خپل هیواد عصري کړي او پر هیواد باندې د روسیې او برتانیې فشار کم کړي. په لومړي سر کې جرمنی یو بېطرف قدرت معلومېدی، په جغرافیایی لحاظ ډېر لیرې پروت وو او دونه قوي نه ښکارېدی؛ نو دا د مرستې ډېره ښه او مساعده منبع وه. مګر تر ۱۹۳۹ کال پورې جرمني نور بېطرف او کمزوری هیواد نه وو او تر دغه وخته یې په افغانستان کې، د خپلو ورانکاریو لپاره، یو مرکز منځته راوړی وو. د تاډ موسسې پلونه او سړکونه جوړول. د زیمینس او ټلفون کن موسسو د مخابراتو عصري سستم جوړاوه. د افغانستان پوځ ته له سره د جرمني وسلې ورکړه سوې او لوفټ هانزا کابل ته منظمي الوتنې پیل کړې وې او کوښښ یې کاوه چې له دغه ځایه څخه خپلې هوایي کرښې تر لیرې ختیځ پورې ورسوي. په ۱۹۴۰ کال کې جرمني له افغانستان سره یوه تجارتي موافقتنامه لاسلیک کړه او افغانستان ته یې د ۵۵ میلیونو مارکو په اندازه پور، د خپلو پراخو انکشافي پروژو د مالي بنسټ لپاره، ورکړ. افغانستان جرمني ته، په کابل کې، د دایمي تجارتي دفتر ADIFA د پرانیستلو اجازه ورکړه. دا دفتر په وروسته کې د محور هیوادونو د سیاسي فعالیتونو مرکز سو. د جرمني موسسې چې په ظاهره یې مالي فعالیتونه کول د نازي جرمني د پوځې استخباراتو، خارجي محرمو خدماتو، او د نازي ګوند لپاره د خارجي پټو خدماتو د فعالیتونو مرکزونه وه. دا د یادولو وړ ده چې کله شوروي اتحاد، د ۱۹۵۰ په لسیزه کې، په افغانستان کې د ورانکاریو لپاره د مرکزونو اساس جوړاوه او وروسته یې په ۱۹۷۹ کال کې پر افغانستان باندې یرغل وکړ، نو دوی هماغه د نازیانو عمل او تاکتیک کاپي کړ چې د ۱۹۳۰ په لسیزه کې یې کار ورڅخه اخیستی وو.
د دوو جنګونو ترمنځ په لومړیو وختونو کې، د افغانستان مقامات هغه وخت یو څه وارخطا سول چې د نړۍ د اوضاع ورځ په ورځ خرابېدل یې لیدل. جاپان په ۱۹۳۲ کال کې پر چین باندې حمله وکړه، ایټالیې په ۱۹۳۵ کال کې پر حبشې باندې یرغل وکړ او په ۱۹۳۶ کال کې په هسپانیه کې داخلي جنګ پیل سو او په فلسطین او هند کې د برتانیې قدرت ورځ په ورځ مخ پر کمېدلو سو. دوی کتل چې د جرمني د قدرت ستوری ورځ په ورځ ځلېدونکی دی او له دوی سره، په بشپړ سخاوت، د اقتصادي ودې لپاره مرستې کوي. نو دا چې افغانانو په خپل هیواد کې هغوی ته هرکلی وواېه؛ د دې لپاره اقتصادي او سیاسي دلایل موجود وه. د دې لپاره نور دلایل هم موجود وه او هغه دا چې جرمنیانو ډېر سخت کارکاوه او په هر ډول شرایطو کې ژوند کولو او په لږه تنخوا کار کولو ته تیار ول. پر دې برسېره، جرمني د برتانیې او روسیې د فشارونو په مقابل کې یو مورچل لا هم وو. د افغانانو جرمنیان خوښ وه او د هغوی د هیواد په بیرته رغېدلو خوشاله وه، د هغوی صنعتي پرمختګ یې لیدی او په نړۍ وال سیاست کې یې د هغوی کلک دریځ او پهلواني خوښه وه. جرمنیانو د افغانانو له دې تاوده هرکلي څخه بشپړه استفاده وکړه او تر ۱۹۳۹ کال پورې یې په افغانستان کې تر ټولو خارجیانو شمېر زیات وو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په افغانستان کي د ایټالویانو او جاپانیانو هم ښه هرکلی وسو. افغانستان د امان الله خان له وخته له ایټالیې سره اړیکي ټینګ کړي وه. له هغه هیواد څخه یې ایټالوي انجنییران، تخنیکران، سلاکاران او کسبکاران رابللي وه څو د خپل هیواد په عصري کولو کي کار ورڅخه واخلي. ایټالیې د خپلي سیاسي نمایندګی له لاري په افغانستان کي د خپلو اتباعو شمېر زیات کړی وو. ایټالیه یو له لومړنیو هیوادونو څخه وو چي د افغانستان د خپلواکی په تعقیب یې هغه هیواد ته خپل ډیپلوماټیک هیات واستاوه. جاپان، مخکي له هغه چي په ۱۹۳۸ کال کي افغانستان ته خپل سفیر واستوي، په هغه هیواد کي تجارتي استازي درلودل. افغانانو د روسیې او جاپان د ۱۹۰۴ او ۱۹۰۵ کلونو د جنګ راهیسي، چي جاپان په شلمه پېړۍ کي لومړنی اسیایی هیواد سو چي یوه لوی اروپایي قدرت ته یې ماته ورکړې وه، د هغه هیواد ستاینه کوله.
په دې صورت کي نو، د امریکا استازي اینګرټ، د محور د هیوادونو د تهدید په مقابل کي، په کمزوري حالت کي وو. دی د لوبي په منځ کي افغانستان ته ورسېدی او په میدان کي نوی لوبغاړی وو. ډېر داسي کارونه سوي وه چي ده تغییر نه سوای ورکولای. د جنګ له پیل څخه مخکي، شوروي اتحاد او برتانیې په افغانستان کي د جرمني له حضور څخه اندېښمن نه وه. برتانیې غوښتل چي د روسیې پښه له دې میدانه وباسي او روسیې غوښتل چي برتانیه لیري کړي. خو کله چي د جنګ لړي پر خپرېدلو سوې نو د ماسکو، لندن او کابل د مشرانولپاره نوي خیالونه پیدا سول. د ۱۹۳۹ کال د اګسټ پر دیرویشتمه د جرمني او روسیې ترمنځ تړون پر برتانیې او افغانستان دواړو لپاره د بمب د چاودني په ډول اغېزه وکړه. برتانیې نور پر روسیې باندي دا حساب نه کاوه چي هغه هیواد به ګوندي د جرمني د پرمختګونو مخه ونیسي او روسیې هم پر برتانیې باندي هغه پخوانی حساب نه کاوه. افغانانو ته د روسیې د حملې له خطر څخه اندېښنه پیدا سوه او نور یې د جرمني څخه د مرستي تمه نه درلوده. دوی کوښښ وکړ چي له برتانیې څخه د امنیت تضمین ترلاسه کړي خو برتانیه حاضره نه سوه. افغانانو فیصله وکړه چي په دې صورت کي باید له وضع څخه د امکان ترحده پوري استفاده وکړي. سره له هغه چي افغانانو په لومړي سر کي خپله بېطرفي اعلان کړې وه؛ کوښښ یې وکړ چي د محور د هیوادونو همکاري ترلاسه کړي او وګوري چي د محور د هیوادونو د بري په صورت کي څه ګټه کولای سي. د افغانستان د ملي اقتصاد وزیرعبدالمجیدزابلی، چي له جرمني سره د اړیکو اوږده تجربه یې درلوده او خارجه وزیر فیض محمدزکریا، چي په جرمني کي یې ډېر وخت تېر کړی وو، دواړه برلین ته ولاړل او جرمنیانو ته یې وویل چي که چیري دوی ژمنه کوي چي په جنګ کي له بریالیتوب څخه وروسته هغه مځکي ورکوي چي برتانیې ورڅخه اخیستي دی نو افغانستان له جرمني سره همکاری کولو ته حاضر دی. هیټلر له زکریا سره وکتل او هغه ته یې وویل:

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ